


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه
د نشر نېټه : 1 جنوری 2025 ميلادی

# زړه ته خطاب

تر څو به د خپلی هوا او هوس لپاره دومره مشکلات او ستونځی زغمی؟
ته... هو : ته په ياد لری او که نه ! هغه خاطرات؛ هغه ورځی او شپی، هغه خواږه اشنايان، هغه د لطف او نزاکت اوشوخی مجلسونه؟
ولاړل ، تير شول او تيرېږی ! يقين لرم چی ته هغه له ياده نشی ويستلی ، ځنګه هغه ستا په ژوند پوری پوره اړه لري.

**ای زما زړه !!!**

**او ای د خلکو زړونو !!!**

پو هيږم چی هڅی ، تلوسی او اميدونه لری، او د خپلو پريشانيو او کړاونو له لاسه ځوريږی.
يقيناً چی تاسو زياتی هڅی او هيلی لری نو ځکه د ستاسو د هيلو او هڅو په خاطر د زوړنو احساس او عواطف غواړم .

**ای زما د ځان ملګريه زړه !!!**

**ای د عشق او د مينی مرکزه !!!**

هغه عشق او مينه چی تا د خلکو څخه پټه ساتله فاش او رسوا شوه ځکه چی ستا د عشق او ميني پوره داستان د ريکاټ په مخ ثبت شو او د موسقی په دفتر کښی وليکل شو.
هو : ستاد ژوند خاطری د کتاب د پاڼو په مخ او د ريکاټ په پردو کښی وساتل شو ، لو ستونکی ئی لولي او اوريدونکی ئی آوری او پوهيږی چی دا داستان د زړه عواطف او ملکوتي الهامات دی ، دا د وطن ، ملک ، قام ، قبيل او د ملت د نهضت او پر مخ تګ د پاره اميدونه ، هيلی او هڅی دی ، دا د هغه ارمانونو معراج دی کوم چی د ډيرو کلونو څخه وروسته په لاس راغلي دي.

**ای زما ګرانه زړه !!!**

**ته هغه با نعمت وقيمتی شی ئی چه د الهی د محبت او مرحمت نور تا ته حرکت، قوت او برکت در کوي ! نو اوس هو ... اوس عهد وکړه چی د ځان او دخلکو د خدمت د پاره ميني ، محبت ، عشق او جذبی ته ادامه ورکړی تر څو د هغه مخکښی تللی قافلی ته په ډير زور او قوت سره ځان ورسوی ، کوم چه د انسان د خير او مصلحت، سعادت او اسايش لپاره زمينه او وسايل برابره وي.**

***

سعيد افغاني
کابل ـ ۱۳۵۵ هجري شمسي

ترتيب کوونکی : برهان الدين « سعيدی »

www.said-afghani.org – بازګشت به صفحه اصلی